Dutch Committee for Afghanistan - Livestock Programs

افغانستان لپاره د هالنډ کمیټه - مالدارۍ پروګرام

کمیته هالند برای افغانستان - پروگرام مالداری

**Pashto Version**

## چرګانو توزیع

په کال ۲۰۱۴ کی د کرنی، اوبو لګولو او مالداری وزارت به نوښت او د کرنی د پرمختګ د نړیوال وجهی صندوق په مرسته د افغانستان په دریو ولایتونو( کابل، لوګر او پروان) کی د وترنری خدمتونو او کوچیانو مالدارانو ته د اقتصادی فرصتونو د برابرولو په هدف، افغانستان لپاره د هالند کمیټی ته یوه پروژه ورکړ شوی ده. د دی زراعتی، مالداری او انکشافی پروګرام عمومی هدف په کلیوالی سیمو کی د خلکو په فعال ګډون سره د بیوزلی د کچی ټیټوالی، د خوراکی توکو خوندیتوب او د ذکر شویو ولایتونو په اړوندو ولسوالیو کی د ۲۶۰۰۰ کورنیو د زراعتی او مالداری تولیداتو ډیرول دی.

د دی پروژی یو تن ګټه اخیستونکی خپله د کامیابی کیسه داسی بیانوی.

زما نوم زرکه د ده سبز ولسوالی ، کابل ولایت اوسیدونکی یم ، زه د شپږو اولادونو موریم او خاوند می بیکاره دی مخکی له دینه چی د IFAD / CLAP او کرهنی اوبو لګولو او مالداری وزارت له خدمتونو نه ګټه پورته کړم مشکلات مو زیات وو او په کورنی کی به مو په مشکل لازمه خواړه لاسته راوړل ولی له کله نه چی مونږ ته چرګانی راکړل شوی د کورنی، ماشومانو او میلمه لپاره مو د خوړلو برابرولو یوه اسانه لاره برابره شوی چی کولی شو په هر وخت کی له هګیو څخه ګټه پورته کړو.

هره ورځ په اوسط ډول له دولسو چرګانو څخه له ۸ تر ۱۰ پوری هګی لاسته راوړم لکه څرنګه چی زما د کار لومړنی ورځی دی تر اوسه مو بازار کی نه دی خرڅی کړی ولی د پروژی همکاری یو ښه لاربښود ده زما لپاره غواړم چی په راتلونکی د چرګانو تعداد زیات کړم او وکولی شم د یوی ښی تغذیی ترڅنګ د کورنی د نورو مشکلاتو د حل په موخه هګی په بازار کی و پلورم.



زرکي خپل چرګان کلپ همکارانو ته ښیی چی نورو مشورې ورڅخه اخلی. جولای 2017



د زرکي چرګانو، جولای 2017